# جنوبي وزيرستان: ټي ټي پي ته يو بل لوی ګوزار ۸ ترهګر وژل شوي او ګڼ نور ټپيان دي

د جنوبي وزيرستان په شين ورسک سيمه کې د استخباراتي معلوماتو پر اساس د امنيتي ځواکونو په عملياتو کې اته ترهګر وژل شوي او ګڼ نور ټپيان شوي او نيول شوي دي۔ په دغو عملياتو کې يو تن امنيتي سرتيري شهيد او درې تنه نور ټپيان شوي۔

**د تفصيلاتو له مخې، په شين ورسک کې د ترهګرو د شتون په اړه د معلوماتو ترلاسه کولو وروسته، امنيتي ځواکونو د دوی پټنځای محاصره کړ، چې د ځمکې لاندې کيندلو وروسته په ژور غار بدل شوے وو۔ ترهګرو شاوخوا لس ساعته سخت مقاومت وکړ او هڅه يې وکړه چې د سيمې په خلکو کې پټ شي خو دغه هڅه يې ناکامه کړي شوا او ترهګرو ته درنه مرګ ژوبله واوښته۔**

**په وژل شوؤ ترهګرو کې مهم مشر جان محمد عرف چرغ هم شامل دی چې دحافظ ډلې ټي ټي پي سره تعلق لري اؤ په امنيتي ادارو په ترهه ګريزو بريدونو، بهتو اخيستو، سمګلنګ اؤ هدفي وژنې کې يې لاس درلود۔**

اصلي پوښتنه دا ده چې ترهګر په ګڼ آباديې علاقه کې څنګه اوسېدل او د هغوی په سهولتکاريې کې څوک لاس لري۔ټي ټي پي تل هڅه کوي چې خپل لوی تلفات پټ کړي او دا ځل به هم د تلفاتو د پټولو هڅه وکړي۔